بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوښتنې ځواب

## په اندونیزیا کې سیاسي تحولات

(ژباړه

**پوښتنه:**

پخواني جنرال، ۷۳ کلن پرابوو سوبیانتو د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په ۲۰مه د پارلمان د غړو پر وړاندې د اندونیزیا د ولسمشرۍ لوړه وکړه. دا ټاکنې په تېره فبروري کې شوې وې او نوموړی د ۲۰۲۴م کال د مارچ په ۲۰مه بریالی اعلان شوی و. امریکا یې سمدستي د بریا مبارکي ورکړه؛ د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر، بلینکن د مبارکۍ په پیغام کې راځي: «واشنګټن له پرابوو سره د ټینګو همکاریو په لټه کې دی.» [الجزیره؛ ۲۰۲۴م کال د مارچ ۲۰مه]

دغه راز، نوموړي د ۲۰۲۴م کال د اپریل په لومړۍ نېټه؛ د خپل رسمي کار تر پیل وړاندې چین ته سر وکړ او د چین له ولسمشر سره په لیدنه کې یې وویل: «د چین او اندونیزیا ترمنځ د نږدې اړیکو د زیاتېدو بشپړ ملاتړ کوي او غواړي له چین سره د ملګرتیا هغه سیاست دوام وکړي چې ولسمشر جوکو مخته بېوه» [رویټرز؛ ۲۰۲۴م کال د اپریل ۱]

اوس پوښتنه دا ده چې ایا د امریکا دا سمدستي مبارکي او چین ته د پرابوو سفر له دغو دوو هیوادونو سره د اندونیزیا د اړیکو په معنی دي؟ په بل عبارت؛ ایا د امریکا پر وړاندې به د اندونیزیا سیاست بدل شي؟ د چین پر وړاندې به د اندونیزیا سیاست څنګه وي؟ او پر غزه د صهیونیستي رژیم د بریدونو پر وړاندې د دغه هیواد سیاست څه دی؟

**ځواب:**

**د دغو پوښتنو د ځوابولو لپاره لاندې موارد ارزوو:**

**لومړی: د امریکا او اندونیزیا سیاست:**

۱. په ۱۹۴۹ کې له هالنډ څخه د اندونیزیا تر ازادېدو وروسته امریکا هڅه وکړه چې د هالنډ ځای ونیسي او د پورونو او مرستو له لارې په دغې خاوره کې خپل نفوذ زیات کړي؛ خو اندونیزیا دا مرستې ونه منلې او دا یې د ولکې وسیلې وګڼلې؛ امریکا د فشار راوړلو لار خپله کړه او بلاخره په ۱۹۵۸ کې ولسمشر احمد سوکارنو د دغو مرستو منلو ته غاړه کېښوده او له هغه وخت راهیسې امریکا په دغې خاوره کې خپل نفوذ زیات کړ. امریکا هڅه وکړه چې دغلته خپل لاسپوڅي پیدا کړي، تر دې چې په پوځ کې یې ځینې مزدوران پیدا کړل چې په راس کې یې محمد سوهارتو و؛ نوموړي په ۱۹٦٦ کې د احمد سوکارنو پر وړاندې انقلاب وکړ. امریکا د خپل نفوذ د لا پیاوړي کولو لپاره د سوهارتو ملاتړ وکړ چې کمونیستان وځپي. بیا یې مرسته ورسره وکړه چې په ۱۹۷۵م کال کې ختیځ تیمور له پرتګالي استعمارګرو ازاد کړي. خو کله چې امریکا له اندونیزیا څخه د ختیځ تیمور د بېلولو غوښتنه وکړه، سوهارتو تعلل وکړ. د دې په ځواب کې امریکا اقتصادي ستونزې ورته پیدا کړې چې په دې کې د امریکا د وسیلو، یعنې د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک رول زیات و. دا ناورینونه د زده‌کوونکو د لاریونونو او ګډوډیو سبب شول چې بلاخره په ۱۹۹۸م کال

کې سوهارتو استعفا ورکولو ته اړ شو او امریکا د خپلو نورو غلامانو په څېر، چې د استفادې تاریخ یې تېرېږي، یوې گوښې ته وغورځاوه!

۲. تر سوهارتو وروسته د هغه مرستیال، یوسف حبیبي ولسمشر شو؛ د ده دوره څه باندې یو کال وه. حبیبي د امریکا غوښتنې پوره کړې؛ د ختیځ تیمور د برخلیک ټاکلو حق په اړه یې له ټولپوښتنې سره توافق وښود او دا د دغې سیمې د جلا کېدو مقدمه وه؛ داسې چې د بیا یو ځای کېدو غوښتنه به یې هم نه کوي. دغه راز یې د ټاکنو یو پلان «ډیموکراسۍ ته پرېښودل» جوړ کړ؛ تر ده وروسته عبدالرحمن وحید شاوخوا دوه کاله، له ۱۹۹۹ تر ۲۰۰۱ پورې په واک کې و، خو پارلمان د فساد په تور له واکه لرې کړ او پر ځای یې د احمد سوکارنو لور، مگاوتي سوکارنو واک ته ورسېده. دا د اندونیزیا لومړنۍ ښځینه ولسمشره وه چې له ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۴ کال پورې واک ورسره و. د نوموړې د ولسمشرۍ پر مهال، په ۲۰۰۲م کال کې له اندونیزیا څخه د ختیځ تیمور د جلا کېدو اعلان وشو او هغې هم د خپلو سلفو په څېر خیانت وکړ!

۳. د اندونیزیا ټاکنې د نویو اصلاحاتو له مخې په مستقیم ډول ترسره شوې او ولسمشر کولی شي حد اکثر دوې دورې، چې هره دوره یې ۵ کاله وي، وټاکل شي. سوسیلو بامبانگ یودهویونو له ۲۰۰۴ تر ۲۰۱۴ پورې ولسمشر وټاکل شو. په دغه کال کې بیا جوکو ویدودو ولسمشریزې ټاکنې وگټلې او په ۲۰۱۹ کې یو ځل بیا د ولسمشر په توگه وټاکل شو؛ د ده دویمه دوره د ۲۰۲۴م کال په اکتوبر کې پای ته ورسېده. جوکو ویدودو په خپله دوره کې هڅه وکړه چې اندونیزیا په امریکا پورې تړلې وساتي؛ نوموړي د ۲۰۲۳م کال د نومبر په ۱۳مه امریکا ته د خپل سفر په ترڅ کې له ولسمشر بایډن سره په لیدنه کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د سټراټیژیک شراکت او د اسیا د سویل ختیځو هیوادونو د اتحادیې د محوري رول پر پیاوړي کولو توافق وکړ. امریکا هڅه کوي چې له اندونیزیا په استفادې په دغې اتحادیه کې خپل نفوذ زیات کړي؛ په یاده اتحادیه کې گڼ هیوادونه شامل دي چې پر ځینو یې امریکا نفوذ نه لري. د دغو اقداماتو موخه له چین سره مقابله او د چین په سویلي سمندر کې د دغه هیواد د نفوذ مخنیوی دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر، بلینکن د ۲۰۲۴م کال د جولای په ۱۷مه د اندونیزیا د خپلواکۍ د ورځې په مناسبت پیغام کې دې ته اشاره وکړه او ویې ویل: «زموږ په اړیکو کې د یوه تاریخي گام په توگه؛ ولسمشر جوکو ویدودو او ولسمشر بایډن په نومبر کې دا اړیکې د یوه جامع سټراټیژیک شراکت کچې ته لوړې کړې.» [الیوم السابع ورځپاڼه؛ ۲۰۲۴م کال د اگسټ ۱۷مه]

۴. د اندونیزیا په ټاکنو کې چې د ۲۰۲۴م کال د فبروري په ۱۴مه ترسره شوې؛ پرابوو سوبیانتو (د پخواني ولسمشر محمد سوهارتو زوم) د ۵۸،۵۸ سلنه رایو په خپلولو واک ته ورسېد؛ مرستیال یې د پخواني ولسمشر جوکو ویدودو زوی، جبران و. سره له دې، د اندونیزیا د قوانینو پر بنسټ، جبران ځان د ولسمشر مرستیال نه شو کولی؛ ځکه چې سن یې ٣٦ کاله و؛ په داسې حال کې چې د قانون له مخې د دغې څوکۍ لپاره حد اقل سن ۴۰ کلني ده. خو د اندونیزیا د قضایه قوې رییس، چې هغه هم د جوکو ویدودو زوم دی، تر ټاکنو وړاندې قوانین بدل کړل او تر ۴۰ کلنۍ ټیټ سن لرونکو ته یې اجازه ورکړه چې د ولسمشر مرستیال/کاندید شي. جوکو ویدودو ډېر د خپلې دورې د اوږدوالي په فکر کې و، خو بریالی نه شو. بلاخره یې له پرابوو سره معامله وکړه چې د ملاتړ په بدل کې به یې زوی، جبران د ولسمشر مرستیال ټاکي. د اندونیزیا دولت، له ولسمشره نیولې تر پوځ، د اطلاعاتو سازمان او پولیسو؛ په ښکاره د پرابوو ملاتړ وکړ. امریکا د معمول پر خلاف، د دغه ملاتړ مخالفت ونه کړ. پرابوو چې په پوځ کې د خپلو همکارانو ترمنځ «د امریکا زوی» په نامه مشهور و؛ د امریکا د جورجیا ایالت په فورټ بینینگ او د شمالي کارولینا په فورټ براگ کې یې زده‌کړې کړې. د ۲۰۲۴م کال د مارچ په ۲۰مه یې په ټاکنو کې تر بریالي کېدو وروسته نوموړي ته سمدستي امریکا مبارکي ورکړه. د امریکا

د بهرنيو چارو وزير، بلينکن د مبارکۍ پیغام ورته واستاوه: «واشنګټن له پرابوو سره د ټینګو همکاریو په لټه کې دی.» [الجزیره؛ ۲۰۲۴م کال د مارچ ۲۰مه] له دې ښکاري چې پرابوو امریکا ته وفادار دی او دا یو پیاوړی تړاو دی!

۵. پرابوو رسماً ولسمشر وټاکل شو او د تحلیف مراسم یې ترسره کړل؛ بیا یې د ۲۰۲۴م کال د اکتوبر په ۲۰مه نوی دولت جوړ کړ. په انتقالي دوره – په ټاکنو کې له بریا د کار تر پیل پورې- کې یې اووه میاشتې خپله پخوانۍ دنده مخته وړه چې د جوکو په دولت کې د دفاع وزیر و.

په دې دوره کې امریکا د ۲۰۲۴م کال د جولای په ۲٦مه له اندونیزیا سره د جاوه جزیرې په سیداوارګو سیمه کې، چې د سویلي چین سمندر په حوزه کې ده، نظامي مانورونه وکړل. دغو مانورونو دوې اونۍ دوام وکړ او جاپان، تایلنډ، بریتانیې، سنګاپور، فرانسې، کاناډا او نیوزیلنډ هم ګډون پکې درلود.

پرابوو دغه راز په دې موده کې ګڼ شمېر بهرني سفرونه وکړل؛ امریکا ته په سفر کې یې د دغه هیواد له دفاع وزیر، لویډ آسټین سره په پنټاګون کې ولیدل. په اندونیزیا کې د امریکا سفیرې، کمالا شریین لخضیر وویل: «د اندونیزیا له نوي ولسمشر سره زموږ د هیواد اړیکې له پخوا وې؛ ان په ۲۰۱۹ کې د دفاع وزیر په توګه د هغه تر ټاکل کېدو وړاندې...» [الجزیره؛ ۲۰۲۴م کال د اکتوبر ۲۰مه]. له دې ښکاري چې له پرابوو سره د امریکا اړیکې هغه وخت ته ورګرځي چې دی په پوځ کې و او په امریکایي اډو کې یې د امریکایي افسرانو لخوا روزنه لیدله. دغه راز، دغو اړیکو هغه وخت چې دی د سوهارتو په حکومت کې د پوځ مشر و. د VOI - Voice of Indonesia ویبپاڼې هم د پرابوو د تحلیف تر مراسمو وروسته، د ۲۰۲۴م کال داکتوبر په ۲۹مه یو مطلب خپور کړ چې پکې راغلي:

«د اندونیزیا دفاع وزیر، شفري شمس الدین او په اندونیزیا کې د امریکا سفیرې کمالا شریین لخضیر د دواړو هیوادونو ترمنځ سمندري امنیت په ګډون د دفاعي همکارۍ پر فرصتونو بحث وکړ. د اندونیزیا د دفاع وزارت د عمومي اړیکو دفتر رییس، اډوین آدریان سومانتا دوشنبه وویل چې د امریکا سفیرې دفاع وزیر ته د سمندري امنیت په برخه کې د همکارۍ لپاره د امریکا د تمایل په اړه ویلي. په هغه ناسته کې چې د اندونیزیا د دفاع وزارت په دفتر کې ترسره شوه، د امریکا سفیر همداراز وویل چې امریکا د هغو مانورونو دوام غواړي چې اوس هر کال یو ځل په اندونیزیا کې ترسره کېږي. په یاده لیدنه کې شفري له سفیرې مننه وکړه او د هغه شراکت پر پیاوړتیا یې ټینګار وکړ چې د دواړو هیوادونو ترمنځ رامنځته شوی».

**د پورتنیو موارډو په دقیقه ملاحظه او تدبر روښانه کېږي چې د اندونیزیا نوی ولسمشر، پرابوو د ۲۰۲۴م کال د مارچ په ۲۰مه په ټاکنو کې له بریا راهیسې بیا د ۲۰۲۴م کال د اکتوبر په ۲۰مه د هغه د تحلیف تر وخت او ان تر هغه وروسته د خپلو سلفو پر لار روان دی او په امریکا پورې یې تړاو ان زیات شوی دی؛ هلته د امریکا نفوذ لا هم هماغسې پاتې دی.**

**دویم: د اندونیزیا او چین سیاست:**

۱. د اندونیزیا نوی ولسمشر، په داسې حال کې چې لا یې رسماً صلاحیتونه نه وو اخیستي؛ د د ۲۰۲۴م کال د اپریل په لومړۍ نېټه چین ته سفر وکړ او د دغه هیواد له ولسمشر سره یې ولیدل؛ په یاده لیدنه کې یې وویل: «د چین او اندونیزیا د اړیکو له پراختیا بشپړ ملاتړ کوم او غواړم د ملګرتیا هغه سیاست ته چې ولسمشر جوکو پر مخ بېوه، دوام ورکړم.» د چین ولسمشر وویل: «بیجینګ د ستراتېژیک او اوږدمهاله لید له مخې له اندونیزیا سره خپلو اړیکو ته ګوري او چمتو دی چې جامع ستراتېژیکې همکارۍ لا ژورې کړي.» [رویټرز؛ ۲۰۲۴م کال د اپریل ۱]

دا چې چین په اندونیزیا کې هم په سوداګریزه برخه او هم د پانګونې په برخه کې د پام وړ اقتصادي فعالیت لري او دواړه هیوادونه د (اسیا د سویل ختیځ هیوادونو اتحادیې) سازمان غړي دی؛ دا وضعیت ایجابوي چې د دواړو هیوادونو ترمنځ اړیکې داسې مدیریت شي چې اندونیزیا د چین دښمن نه شي؛ په داسې حال کې چې د امریکا په سیاستونو پورې تړاو – لکه چې یادونه وشوه- وساتي.

۲. یوې کویټي ورځپاڼې د ۲۰۲۴م کال د نومبر په ۹مه په خپله ویبپاڼه کې ولیکل: «د چین او اندونیزیا ولسمشرانو د بیجینګ د خلکو ستر تالار کې د یوه هوکړهلیک د لاسلیک پر مهال د یو بل لاسونه ټینګ کړل. دا د ولسمشرۍ دورې له پیل درې اونۍ وروسته د ولسمشر سوبیانتو لومړی بهرنی سفر و چې په بیجینګ کې یې د چین له ولسمشر سره وکتل او له دغه هیواد سره –چې د اندونیزیا تر ټولو لوی سوداګریز شریک او یو ډیر مهم بهرنی پانګوال دی- د اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

پرابوو سوبیانتو په دې لیدنه کې وویل: «اندونیزیا چین ته د یوه ستر قدرت په سترګه نه، بلکې د یوه ستر تمدن په سترګه ګوري». ده زیاته کړه: «دواړو هیوادونو له پیړیو راهیسې نږدې اړیکې لرلې؛ نو په اوسنیو جیوپولیټیکي او اقتصادي جغرافیایي شرایطو کې طبیعي ده چې اندونیزیا او چین په بېلابېلو برخو کې په ډیرو نږدې شریکانو بدل شي».

د چین ولسمشر، شي جینپینګ هم په دې لیدنه کې د سوبیانتو د دولت پر ملاتړ ټینګار وکړ او له سوبیانتو یې مننه وکړه چې لومړنی سفر یې چین ته وکړ. نوموړي زیاته کړه: «زه ډاډه یم چې اندونیزیا به د خپلې خپلواکې ودې مسیر ته دوام ورکړي او د ملي هوساینې او د هیواد د بیارغونې په برخه کې به نویو بریاوو ته ورسېږي؛ دغه راز به د سیمې او نړۍ په کچه مهم رول ولوبوي».

چین او اندونیزیا له اصلي اقتصادي متحدانو څخه دي؛ خو د سویلي چین پر سمندر د حاکمیت په برخه کې یې لفظي شخړې کړې دي. ټاکل شوې چې سوبیانتو بیجینګ ته له سفر وروسته د امریکا د ولسمشر، بایډن په بلنه واشنګټن ته لاړ شي. دا د یوه نړیوال سفر برخه ده چې پیرو، برازیل او بریتانیا هم پکې شاملېږي.

په دې موضوع کې له تأمل څخه روښانه کېږي چې د چین او اندونیزیا ترمنځ اړیکې له سوداګریزې حوزې وړاندې نه ځي او دا اړیکې په اندونیزیا کې د امریکا پر نفوذ اغیز نه لري. د دغو اړیکو اصلي محور سوداګري ده؛ خو کله چې خبره د حاکمیت د نفوذ او د سویلي چین د سمندر برخې ته رسېږي، د دواړو هیوادونو ترمنځ نانددرۍ او د نظر اختلاف دی!

**درېیم: د مسلمانانو د مسایلو په اړه د اندونیزیا سیاست**

۱. ښکاره ده چې اندونیزیا ریښه لرونکې اسلامي خاوره ده؛ ځکه چې خلک یې په لومړۍ هجري پېړۍ کې مسلمانان شول. د دغې خاورې نفوس نږدې ۳۰۰ ملیونه دی چې شاوخوا ۹۰ سلنه یې مسلمانان دي. اندونیزیا ۱،۹ ملیونه کیلومتره مساحت لري چې له طبیعي سرچینو او خامو موادو غني خاوره ده. اندونیزیا پر یوه لوی قدرت د بدلېدو ظرفیت لري؛ خو په دې شرط چې د اسلامي اساسي قانون پلان پکې پلی شي او د چارو واک یوه پوه او اسلامي رهبري پر غاړه واخلي.

۲. د مسلمانانو د مسایلو په اړه د اندونیزیا د نوي ولسمشر بهرنی سیاست د ده د سلفو د سیاستونو پشان د امریکا د نظرونو پر اساس جوړ شوی؛ پرابوو د ۲۰۲۴م کال د جون په لومړۍ نېټه په شانګریلا غونډه کې، چې د اسیا تر ټولو لویه امنیتي غونډه ده او په سنګاپور کې وشوه، وویل: «د غزې د اوربند په اړه د امریکا د ولسمشر، جو بایډن درې پړاویز وړاندیز ښه ګام دی». ده زیاته کړه: «د اړتیا او د ملګرو ملتونو د غوښتنې په صورت کې موږ د غزې پر اوربند د څار لپاره د خپلو پوځیانو لېږلو او ټولو اړخونو ته د امنیت

ټینګولو لپاره تیار یو». دی همداراز «د فلسطین د وضعیت لپاره د عادلانه حللارې» غوښتونکی شو او ویې ویل: «دا نه یوازې د اسرایلو، بلکې د فلسطین د خلکو د حقونو، وطن، هیواد او سوله‌ییز ژوند د شتون په معنی دی». [رویټرز؛ ۲۰۲۴م کال د جون ۱]

۳. دا په داسې حال کې ده چې د یوې اسلامي خاورې د ولسمشر په توګه د هغه دنده دا ده چې د غزې د خلکو ملاتړ وکړي او د دغه وحشي دښمن د مخنیوي لپاره پوځونه واستوي؛ هغه دښمن چې به بې رحمۍ ماشومان، ښځې او سپین ږیري وژني؛ کورونه، ښوونځي او روغتونونه ویجاړوي. د غزې له خلکو سره د اندونیزیا یوازینۍ مرسته د یوه روغتون جوړول وو چې هغه هم یهودي رژیم ونړاوه. له دغه وحشي رژیم سره د امریکا پرېمانه ملاتړ دی او د سمندر له اخوا وژونکې وسلې او تجهیزات ورته را استوي؛ خو سره له دې د اندونیزیا نوی ولسمشر له امریکا سره خپلې اړیکې لا زیاتوي او په هغې پورې خپل تړاو لا پیاوړی کوي. دا نږدېوالی د پرابوو او امریکا د پخوانیو اړیکو او هغه ملاتړ په سبب دی چې تل یې له امریکا ترلاسه کړی.

۴. له دغو سیاستونو او هغو حکامو سره چې په اندونیزیا کې واکمن دي او خپل سیاستونه له امریکا سره یو شان تنظیموي؛ دا خاوره یو مهم او تاریخي فرصت له لاسه ورکوي چې په یوه لوی قدرت بدلېدلی شوه. دا په داسې حال کې ده چې که واک له یوې پوه، اسلامي او مخلصې رهبرۍ سره وای او د دغې خاورې د خلکو له عقیدې راوتلی اسلامي اساسي قانون پلی شوی وای؛ اندونیزیا د نړۍ په کچه غوره مقام ته رسېدی شوه؛ داسې یوې رهبرۍ کولی شو د اسلامي خاورو، په ځانګړې ډول د مالیزیا پشان نږدې خاورو د یو ځای کولو لپاره هڅې وکړي او دا اتحاد د اسلامي خلافت د تاسیس لپاره په مرکزي یا د ارتکاز په ټکي بدل کړي.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾.** [انفال: ۲۴]

**ژباړه:** *«اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! کله مو چې الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو څه لپاره رابولي چې تاسو ته ژوند ښښونکي دي؛ نو بلنه یې ومنئ.»*

۱۴۴۶هـ.ق کال د جمادي الاول ۹مه

۲۰۲۴م کال د نومبر ۱۱مه